احسان الله مومند ۲۰۱۵/۰۳/۰۵

په پښتو ليکدود کې د ليکوالو ښکاره تېروتنې

په اصل کې زه ځان دومره نه بولم؛ ځکه دا د ژبپوهانو او لويو ليکوالانو کار دی چې په دې اړه يو څه وليکي؛ خو بيا هم د يوه لومړنی زدکړيال په توګه هڅه کوم چې په دې اړه د يو څه ليکلو زيار وګنم.
ځينې ښاغلي ليکوال د ځنې او ځينې کليمو ترمنځ توپيرنه کوي؛ په داسې حال کې، چې دا دوه بېلابېلې کلمې او بېلابېلې معناوې لري.
دا، چې ځنې د څخه معنی لري دا بايد ځينې ونه ليکل شي؛ ځکه ځينې د بعضې او نورو په معنی دی.
لکه :
احمد ځنې(څخه) مې کتاب واخيست.
ځينې په دې اند دي چې د افغانستان راتلونکی اوس روښانه دی(يعنی بعضې کسان په دې اند دي، چې...).
همداشان ځينې ليکوالانو په خپلو ليکنو کې د فواصلو يا فاصلو مراعت نه کوي چې دا په اصل کې د لوستو پر مهال لوستنه ستونزمنوي؛ په ځانګړي توګه هغو کسانو ته، چې پښتو يې مورنۍ ژبه نه وي.
د فاصلو د نه مراعت بېلګه:
درنګه عکسونو چاپځای، چې که دا معنا کړو؛ د دمه لرونکيو عکسونو چاپځای او يا هم د اوږده انځورنو چاپځای معنا لري. اصلي معنا يې داسې ده، چې د رنګه يا څلور رنګونو عکس چاپځای.
بايد د (د) ارتباطي توری، چې دلته له کلمې سره راغلی بېل او رنګه کلمه بېله وليکل شي. همداسې نورې ډېرې کلمې دي، چې که بېل- بېل ونه ليکل شي دا ډول ستونزې او تېروتنې منځته راوړلای شي. همدا شان ځينې ليکوال د ځمکې کلمه په(ز) ليکي، چې دا په اصل کې بايد(ځ)وليکل شي؛ په دې اړه ما يوه ورځ له استاد رفيع څخه وپوښتل هغه راته وويل، چې: د ځمکې کلمه په سانسکريت کې د جماکا په نامه راغلې ده؛ (په پښتو ژبه کې د (ج) توری په د (ځ) په توري بدلولای شو، نه (ز) نو، ځکه په همدې اساس بايد په (ځ)وليکل شي نه په (ز) او يا دې ته ورته ځينې ليکوال د (ی)توری، چې په پښتو کې د کارولو پېنځه بڼې لري: (ی،ي،ې،ئ او ۍ).



- لومړی بې ټکو(ی) چې دا نرمه او په اصطلاح سپک زور لري او د مفردې(ی) په نامه يادېږي. لکه: لرګی، سړی، منګی، بچی، زګړی، خرګی او داسې نور .

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

- دوه یم درنده، ثقیله یا دوه ټـکولرونکي (ي) دا ډول (ي) درنده او ثقیله لوستل کېږي او په اصطلاح دروند زور لري. لکه: سړي، لرګي، منګي، بچي، خرکي او داسې نور.
- درېیمه اوږده یا دوه لاندې باندې ټکي لرونکي(ې) چې اوږده لوستل کېږي.
لکه: ادې، شېدې، خاورې، ایرې، شګې، مستې او دا سې نورو نومونو ته کارول کېږي.
- څلورمه همزه لرونکي(ئ) چې په امریه فعلونو کې کارېږي. د استاد آقا محمد ګرندي په وینا؛ وخورئ، وڅښئ، حساب مه منئ. دغه راز ورته جمعه امریه هم ویلی شو. لکه: خورئ، کرئ، وهئ، ګورئ او داسې نور.
- پنځمه ښځینه یا لکۍ لرونکي(ۍ) چې دا بڼه (ۍ) یوازې د ښځینه نومونو له پاره کارېږي او بس؛ خو ځینې لیکوال دا نه مراعتوي، چې په پایله کې تېروتنه رامنځته کېږي. ځینې محترم لیکوال دا بیا په خپل زړه کاروي کله ناکله لکۍ داره(ۍ) چې ښځینه (ی) ده همزه داري(ئ)زورکۍ والي په ځای د کار وړ ګڼي، چې دا باید د جمعي مخاطب پر وخت وکارول شي نه د ښځینه(ۍ) په ځای، چې دا په اصل کې ښکاره تېروتنې رامنځته کوي.
د پېنځه ګونه یاګانو پخپل ځای کارول د پښتو ژبې زړه راکښونکي ځانګړنه ده؛ ځکه څنګه، چې ویل کېږي همغسې لیکل کېږي هم. معنا دا، چې که یو څوک په پښتو ژبه خبرې وکړای شي له شک پرته، چې هغه په پښتو ژبه لیکل هم کولی شي.
زما په اند که محترم لیکوال پورتني ټکي په نظر کې ونیسي د دوی لیکنې به لوستونکي ډېر، خوندورې او روانې ولوستل شي چې له یوې خوا به پرې ژبه غني او د ژبو مینه والو ته به په زده کړې کې آسانتاوې را منځ ته کړي چې زما په اند پایله به یې ژبې ته یو ښه خدمت وي.
په فرهنګي مینه او درناوي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ